# مسیر

ورځپانه

نوی لید، نوی مزل

www.maseerdaily.af

دوشنبه د ۱۳۹۹ د تلې ۱۴مه | د ۲۰۲۰ د اکتوبر پنځمه | ۶۰۵مه گڼه


# کابل د مرموزې جگړې ډگر؛

## وسله والو غلاوو، هدفي بریدونو او چاودنو د خلکو ژوند تریخ کړی دی



۳

اشرف غني؛ ناخبره دی او که باخبره هوا گزوي

۲ مخ

پاکستان ته د ملي پخلاینې شورا د مشر سفر او پر سوله یې اغېز

۲ مخ

د دوحې په پروسه کې ځنډ؛ د څه لپاره؟

۳ مخ

## د بشري حقونو کمیسیون: ښکېلې خواوې دې د تاوتریخوالي د کمښت په اړه د افغانانو غوښتنې ومني

د بشري حقونو خپلواک کمېسیون د یوې خبرپاڼې په خپرولو سره په دوحه کې د سولې بین الافغاني خبرو پر مهال هدفي وژنې د سولې خبرو د روحیې خلاف بللې دي.

د یاد کمېسیون په اعلامیه کې راغلي، د دوی د موندنو له مخې، د روان کال په لومړیو شپږو میاشتو کې ۹۴۵ ملکي وگړي د هدفي وژنو قرباني شوي دي. د یادې ادارې په وینا، له همدې ډلې ۵۳۳ هغه یې وژل شوي او ۴۱۲ نور ټپیان شوي دي. دغه کمېسیون د جگړې له ښکېلو اړخونو غوښتي چې د بشري حقونو نړیوالو قوانینو ته په پام دې د تاوتریخوالي کمښت په اړه د افغانانو غوښتنې ته مثبت ځواب ووایي.

د بشري حقونو کمیسیون دغه راز له افغان حکومت څخه غوښتنه کړې چې د ملکي افغانانو د ژوند د خوندیتوب ته دې جدي پاملرنه وکړي.

دا په داسې حال کې ده چې وړمه ورځ کورنیو چارو وزارت وویل چې یوازې په تېرو دوو اونیو کې د وسله والو طالبانو په بریدونو کې ٦٩ ملکي وگړي وژل شوي او ۱۴۱ نور ټپیان شوي دي. د بشري حقونو خپلواک کمېسیون داسې مهال یاد راپور خپروي چې له نږدې یوې میاشتې راهیسې په قطر کې د افغان جگړې د پای ته رسېدو او یوې هوکړې ته د رسېدو په تړاو بین الافغاني خبرې روانې دي، خو تر اوسه پکې محسوس پرمختگونه نه دي شوي.

## ملگري ملتونه: د کرونا ویروس له کبله ۷۳ سلنه افغانان له سختو اقتصادي ستونزو سره مخ دي



۵ مخ

## ولایت


۴ مخ

### فراه

دغه ولایت ټول څه باندې ۳۰۹ ښوونځي لري چې ۷۹ یې لېسې، ۱۰۳ یې منځنې ښوونځي او ۱۲۷ یې لومړني ښوونځي دي، چې تقریباً د ۲۷۰۰ ښوونکو لخوا پکې تدریس کېږي.



## کرنې وزارت: په هرات کې د ۴۲۰ میلیونو افغانیو په لگښت ممیزخونې گټې اخیستنې ته وسپارل شوې



د کرنې او مالدارۍ وزارت سرپرست او نوماند وزیر انوارالحق احدي، هرات ولایت ته د خپل لومړني سفر په دوام، د کرنیزو محصولاتو مدیریت له خوا یو زر او پنځه نوې جوړې شوې ممیزخونې گټې اخیستنې ته سپارلې دي.

کرنې وزارت وایي چې په هرات ولایت کې د کرنیزو محصولاتو مدیریت د پروژې په اډانه کې، یو زر او پنځه ممیزخونې جوړې شوي چې هره ممیزخونه لس ټنه او په ټولیزه توگه یادې ټولې ممیزخونې په یوه وخت کې څه باندې ۱۰ زره ټنه انگور په ممیزو بدلوي.

د دغو ممیزخونو د جوړولو ټولیز لگښت ۴۲۰ میلیونه افغانۍ ده، چې ۹۰ سلنه یې د کرنې وزارت او ۱۰ سلنه یې د برخمن شویو بڼوالو له خوا ورکړل شوې دی.

د کرنیزو محصولاتو د مدیریت پروژې، په هرات کې د یو زر او پنځه ممیزخونو د جوړولو ترڅنگ سږکال په دغه ولایت کې د پیازو ۴۲۰ او د کچالو پنځه زېرمتونونه هم جوړ کړي دي.

## رسانه های هندی: عبدالله عبدالله برای جلب همکاری‌ها در روند صلح، فردا به هند سفر می‌کند




قرار است که عبدالله عبدالله رئیس شورای عالی مصالحه ملی برای جلب همکاری هند در روند صلح، فردا به آن کشور سفر کند. عبدالله عبدالله رئیس شورای عالی مصالحه ملی پس از سفر به پاکستان فردا (روز سه‌شنبه) به هند می‌رود.

روزنامه هندی (اندیا تودی) نوشته است که آقای عبدالله در سفرش به دهلی جدید، با نریندرا مودی صدراعظم و شماری از دیگر مقام‌های آن کشور دیدار می‌کند و خواهان همکاری همه‌جانبه هند با روند صلح خواهد شد.

عزیزالله دین‌محمد معاون شورای عالی مصالحه ملی می گوید که تقویت اجماع منطقه‌ای در مورد روند صلح افغانستان ضروری است و کشورهای همسایه و منطقه باید مطمئن شوند که منافع آنها در موفقیت روند صلح این کشور است:

آقای دین محمد افزود: «برای صلح و وضعیت کنونی اجماع منطقه‌ای به کار است. این سخن مهم است که برای کشورهای منطقه اطمینان داده شود که صلح در افغانستان به زیان کسی نیست، بلکه این مرهم گذاشتن بر زخم‌های افغانها و بیرون کردن آنها از چالش‌های کنونی است.»

آقای دین‌محمد افزود که عبدالله عبدالله رئیس شورای عالی مصالحه ملی پس از هند، به ایران، ازبیکستان و چین نیز سفر خواهد کرد. در همین حال اسدالله سعادتی معاون آقای عبدالله گفته است که برای تقویت اجماع منطقه‌ای در مورد روند صلح افغانستان به شماری از کشورها سفرهای صورت می گیرد.




## دریځ

# اشرف غني؛ ناخبره دی او که باخبره هوا گزوي

محمد اشرف غني ورمه ورځ پکتیکا تـه سفر کـړی و او هلتـه یـې د نـورو تشریفـاتي خـبرو او ژمنـو تـر څنـگ دا هـم ویـلي چـې گواکـې نومـوړي ټول افغانسـتان جوړ کـړی، خو د کلیو د پراختیـا وزیـر ته یې له دې امله پېغور ورکړی چـې لویـې پکتیـا تـه پام نـه کـوي. نومـوړي په تکـرار مخاطبینـو ته ویـلي: «ما ټول افغانسـتان جـوړ کـړ او که نـه!؟»

د اشرف غنـي دغـو خـبرو تـه پـرون پـه ټولنیـزو رسـنیو کـې پـراخ غبرگـون ښـودل شـوی دی. څـوک پـرې ملنـډې وهـي، ظنزیـه ویډیوگانـې پـرې جـوړوي او څـوک یـې هـم د خلکـو پـه سـترگو کـې پـر خـاورې شـیندلو، پرله پسـې او لـه حـده پـه ډېـرو دروغ ویلـو او آن مخاطبینـو تـه پـه سـپکاوي تورنـوي. دا لومړی ځـل نه دی چـې نومـوړی دغـه ډول لویـې او آن خندوونکـې ادعـاوې کـوي، بلکـې تـر دې وړانـدې یـې هـم بیـا بیـا دغـه ډول څرگندونـې کـړې وې چـې د خلکـو د مسـخرو او نیوکـو لامـل شـوې وې. اوس اسـاسي پوښـتنه دا ده چـې اشرف غني د معلوماتـو پـه خـلا کـې دی او لـه واقعیتونو خبر نـه دی، کـه په قصدي او شـعوروي ډول دا ډول خـبرې کـوي؟

کـه سـتونزه دا وي چـې ولسـمشر لـه واقعیتونـو دومـره ناخـبره وي، نـو بیـا خو دا د بـې کفایتـۍ او کمـزورۍ وروسـتی حـد دی چـې پـه هېـڅ ډول د توجیـه وړ نـه دی. کـه خـبره دا وي چـې ولسـمشر پوهیـږي او هـر څـه درک کـوي، خـو بیـا بیا د خلکو په سـترگو کې خاورې شـیندي، لویـې اعـاوې کـوي، دروغ وایـي او هڅـه کـوي چـې خلـک تېـر باسـي، نـو دا پـه واقعیـت کـې د افغانسـتان سـتر ولـس تـه سـپکاوي دی، ځکـه چـې خلـک دومـره ړانـده او بـې خـبره نـه دي چـې د اشرف غنـي پـه دې خـبرو تېروځـي، خـو نومـوړی ورتـه همداسـې فکـر کـوي. خلـک سـترگې لـري، عقل لـري اوویني چـې د اشرف غنـي پـه واکمنـۍ کـې څنگـه افغانسـتان د تخریـب او زوال لـوري تـه روان دی. سـړی حیـران شي چـې اشرف غنـي کـوم داسـې کار کـړی، چـې بیـا ادعا کـوي، ټول افغانسـتان یې جـوړ کـړی دی. واقعیـت دا دی چـې د اشرف غنـي پـه وخـت کـې نـه یـوازې د حسـاب وړ رغونـه نـه ده شـوې، بلکـې تخریـب شـوی او آن جـوړې شـوې ادارې پـه منظم او مسلسـل ډول تخریـب شـوي دي. اشرف غنـي د افـرادو لپـاره ادارې جـوړې کـړې دي، د افـرادو لپـاره یـې ادارې ړنگـې کـړې دي، ادارې یـې وېشـلي دي او گـډې کـړې یې دي. حکومتولي یې مسـخره کـړې او قانـون یې په یـوه بې ارزښـته څیز بدل کـړی دی.

د اشرف غنـي مشـاورین دې هغـه پـوه کـړي چـې دا ډول خـبرې نـه یـوازې د ولـس نظـر او فکـر نـه شي بدلولـی، بلکـې خپلـه اشرف غني پـه دروغجـن، مسـخره او بـې ارزښـته واکمـن بدلېـږي. اوس یـې هـم پوره خـبرې او دریځ بې ارزښـته شـوي دي او ډېـر خلـک یـې خـبرې د دې لپـاره اوري چـې پـرې وخانـدي او مسـخره یـې کـړي. لـه بـده مرغـه اشرف غنـي اوس د افغانسـتان ولسـمشر یادېـږي او د یـوه دولـت مشري کوي، خو په دې خبرو ورسره افغانسـتان او دولـت دواړه مسـخره او بې ارزښـته کېږي. له همـدې املـه پکار ده چـې نـور دا ډول هـوا گـز نـه کـړي، بلکـې مقعولې او سـمې خـبرې وکړي او نـور ځـان، حکومت او افغانسـتان مسـخره نه کـړي.

# پاکستان ته د ملي پخلاینې شورا د مشر سفر او پر سوله یې اغېز

◀ د ستراتیژیکو او سیمه ییزو څېړنو مرکز

د روان کال اگسـت میاشـتې پـه ۲۸مـه د ملـي پخلاینـې شـورا مـشر ډاکـتر عبدالله عبداللـه د پاکسـتان لومـړي وزیـر عمـران خـان پـه رسـمي بلنـه یـاد هېـواد تـه درې ورځنـی سفر وکـړ. د ښـاغلي عبداللـه تر سـفر درې ورځـې وړانـدې لومـړي وزیـر عمـران خـان او ولسـمشر محمـد اشرف غنـي پـر افغـان سـوله د ټلیفـون لـه لارې خـبرې وکـړې. پاکسـتان تـه د ښـاغلي عبداللـه سـفر بـه پـر سـولې څـه اغېـز ولـري؟ بـل دا چـې پاکسـتان تر اوسـه پـه افغـان سـوله کـې څـه ډول رول لرلـی او پـه راتلونکـې کـې د یـاد هېـواد رول بـه پـر افغـان سـولې څه اغېـز ولـري؟ د CSRS دا تحلیـل مـو همـدې موضـوع تـه ځانگـړی کـړی دی.

**پاکستان ته د ډاکتر عبدالله عبدالله سفر**

د ملي پخلاینـې شـورا مـشر ډاکتر عبدالله عبداللـه د تېـرې میاشـتې پـه ۲۸مـه د لومـړي وزیـر عمـران خـان پـه رسـمي بلنه پاکسـتان تـه سـفر وکـړ. پـه یاد سـفر کې ښـاغلي عبداللـه د پاکسـتان د بهرنیـو چـارو وزیـر تـر څنـگ، د سـنا او ولسـي جرگـې مشرانو، لومـړي وزیر عمـران خان، ولسـمشر عـارف علـوي او ځینـو دینـي علـماوو سره لیـده کاتـه وکـړل او د اسلام آبـاد د سـتراتېژیکو څېړنو انسـتېټیوټ کې یـې د دواړو هېوادونـو پـر اړیکـو او افغـان سـولې خـبرې وکـړې.

ډاکـتر عبداللـه عبداللـه چـې د تېـر ملـي یـووالي حکومـت پـر مهـال اجرایـه رییـس او اوسـني حکومـت کـې د ملـي پخلاینـې شـورا مشر او د ځانگړې واک څښـتن دی، پاکسـتان تـه وروسـته لـه څـه بانـدې ۱۲ کلونـو لومړنـی سفر تـر سره کـوي. ښـایي همـدا لامـل وي چـې پاکسـتاني لـوري د ښـاغلي عبداللـه لـه ورتـگ څخـه تـود هرکلـی کـړی وي. بـل دا چـې پاکسـتان غـواړي د ډاکـتر عبداللـه عبداللـه او ولسـمشر محمـد اشرف غني خپل منځي اختلافاتـو تـه پـه کتـو، دا پـه ډاگـه کـړي چـې پاکسـتان پـه سـخت وخـت کـې د هغـوی ملاتـړی ثابتېدلـی شي او لـه دې کار ښـایي د پاکسـتان اصلـي موخـه دا هـم وي چـې پـه دې توگـه د هنـد لاس پـه افغانسـتان کـې لنـډ کـړي، څـو هنـد لـه افغـان خاورې پـه گټې اخیسـتنې سره د پاکسـتان پـر خـلاف گامونـه پورتـه نـه کـړي. دا ځکـه چـې د عبداللـه عبداللـه د سـفر پـر مهـال د پاکسـتان د بهرنیـو چارو وزیـر د افغـان سـولې د بریـا پـه برخـه کـې خوشـبیني ښـودله؛ خو پـه ورتـه وخت کـې د سـولې د سـبوتاژ کوونکـو پـه اړه یـې هم څرگندونـې تـر سره کـړې چې بایـد د ټولو پاملرنـه د هغـوی پـه لـوري واوسـي.

پاکسـتاني چارواکو ډاکتر عبدالله عبدالله د سـولې پـه برخـه کـې مهم شـخص وباله او پـه افغـان سـوله کـې یـې د هـر ډول ملاتـړ ډاډ څرگند کـړ. لومړي وزیر ښـاغلي عمـران خـان لـه ډاکـتر عبداللـه عبداللـه سره پـه ځانگـړې لیدنـه کـې څرگنـده کـړه، چـې د افغانانـو تر منـځ د خپلمنځي خبرو اتـرو هـر ډول پرېکـړه بـه یـې د هېـواد لخوا منـل کېـږي، او د اسلام آبـاد سـتراتېژیکو څېړنـو مرکـز کـې د پاکسـتان د بهرنیـو چـارو وزیـر شـاه محمـود قریشي بیـا ځلـې څرگنـده کـړه چـې هېـواد یـې پـه افغانسـتان کـې د تلپاتـې سـولې لپـاره هڅـې کـړې دي او پـه راتلونکـې کـې هـم د افغـان سـولې پـه برخـه کـې هـر ډول مرسـتې تـه چمتـو دي، کـه څـه هـم پاکسـتان لـه دې وړانـدې هـم پـه افغـان سـوله کـې د مرسـتې ژمنـې کـړې وې؛ خـو دا بـه راتلونکـی معلومـوي چـې یـاد هېـواد پـه افغـان سـوله کـې کـوم ډول رول لوبـوي. پـه ټولـه کـې پاکسـتان تـه د ښـاغلي عبداللـه عبداللـه دې سـفر وکولـی شـوی، څـو هغـه لـوړې ژورې چـې لـه املـه یـې د دواړو هېوادونـو اړیکـې خرابـې شـوې وې، تـر یـو بریـده لـه منځـه یوسـي.

پاکسـتاني علماوو له ښـاغلي عبدالله سره پـه ځانگـړې ناسـته کـې د بیـن الافغانـي خـبرو اتـرو پـه دوران کـې د هـر ډول مرسـتې ژمنـې وکـړې او ویل کېـږي چې د افغـان سـولې پـه برخـه کـې بـه پاکسـتاني علـما کابـل تـه هـم سـفر کـوي. کـه افغان حکومـت د پاکسـتاني علـماوو ملاتـړ خپل کـړي، هغـوی پـه ډېـره آسـانه توگـه کولـی شي لـه طالبانـو سره د خـبرو اتـرو پـه دوران کـې پیچلـې مسـئلې پـه کـم وخت کـې حـل کـړي، دا ځکـه چـې طالبـان پاکسـتاني علـماوو ته پـه ځانگـړې احترام قایـل دي او دا کار کولـی شي د افغانانـو وینـې تویېـدو او د دواړو هېوادونو تر منځ د اړیکـو لـه ښـه کېـدو سره هـم مرسـته وکـړي. پاکسـتان د حسـن نیت او ښـه گاونډیتوب پـه پـار لـه افغانسـتان سره د سـوداگرۍ پـه برخـه کـې د آسـانتیاوو رامنـځ تـه کولو تـر څنـگ، افغـان وگـړو تـه د ویـزو ورکـړې پـه برخـه کـې هـم د بـې سـاریو آسـانتیاوو رامنـځ تـه کېـدو خـبر ورکـړ.

**په افغان سوله کې د پاکستان ونډه**

لـه ۲۰۰۱ کال راهیسـې چـې امریکا پـر افغانسـتان تېـرى کـړی، پخوانـي ولسـمشر حامـد کـرزي لـه شـلو ځلونـو زیـات پاکسـتان تـه سـفرونه وکـړل، څو په افغـان سـوله کـې د یـاد هېـواد ملاتـړ تـر لاسـه کـړي، مگـر د نومـوړي ټـول سـفرونه د افغـان سـولې پـه برخـه کـې لـه ناکامـۍ سره مـخ شـول. تـر دې چـې پخوانـي ولسـمشر هڅه وکړه څـو د طالبانو تحریک لـه معـاون مـلا عبدالغنـي بـرادر سره پـر افغان سـولې خـبرې وکـړي، هغـه کار چـې ښـاغلي بـرادر ورتـه هـم ډېـر لیوالـه و. مگر پاکسـتان مـلا عبدالغنـي بـرادر پـه ۲۰۱۰ کال کـې پـه کراچـۍ ښـار کـې ونیـو او دې کار وکولـی شـول چـې د افغـان سـولې پـړاو لـه سـتر خنـډ سره مـخ کـړي، تـر دې چـې پـه ۲۰۱۸ کال کـې نومـوړی لـه بند څخـه آزاد کـړای شـو. د افغان سـولې لپاره د امریکا ځانگړي اسـتازي زلمـي خلیلزاد لـه USIP سره پـه خـبرو کـې څرگنـده کـړه چـې مـلا عبدالغنـي بـرادر د نومـوړي پـه غوښـتنه پاکسـتان له بنـد څخـه آزاد کـړی و. لـه دې پرتـه ځینـې نـور طالبـان چـې د سـولې پـه برخـه کـې بـه یـې لیوالتیـا لرله، پاکسـتان کـې یـا تـرور شـوي او یـا نیـول شـوي وو. تـر دې چـې طالبانـو پـه قطر هېـواد کـې خپل سـیاسي دفتر پرانیسـت چـې پـه لومړیـو کـې د افغـان حکومـت له نیوکـو سره هـم مـخ شـو؛ مگـر یـاد دفتر له یـوې خوا تر یـوې کچـې وکولی شـول څو د طالبانـو تحریـک پـر مشرانـو د پاکسـتان اغېـز او فشـار تـر یـو بریـده راکـم کـړي او بلخـوا د سـولې بهیـر لـه پیـل کېـدو سره مرسـته وکـړي.

طالبانـو د یـاد سـیاسي دفتـر لـه لارې لـه امریکا سره د افغـان سـولې په اړه شـاوخوا ۱۸ میاشـتې خـورا پیچلـې خـبرې اتـرې وکـړې، تـر دې چـې د دواړو لـورو لخـوا یـادې خـبرې اتـرې یـوې نسـبي بریـا تـه ورسـېدې او د روان کال د فـبروري میاشـتې پـه ۲۹مـه د دواړو لـورو تـر منـځ د افغـان سـولې پـه اړه یـوه نسـبي هوکـړه هـم لاسـلیک شـوه. د طالبانـو او امریکا تر منـځ د ۱۸ میاشـتنیو خـبرو اترو په لړ کـې د امریکایـي چارواکـو تـر څنـگ، طالبانـو هـم پاکسـتان تـه وخت پـر وخت سـفرونه وکـړل؛ خو په پاکسـتان کـې د ۲۰۱۸ کال جـولای میاشـتې تـر ټاکنـو وروسـته، چـې عمـران خـان پکـې د لومـړي وزیـر څوکـۍ تـه ورسـېد، پـه هغـه وخـت کـې ولسـمشر ټرمـپ پـر پاکسـتان لـه دې املـه سـختې نیوکـې وکـړې چـې گواکـې په افغان سـوله کـې د امریکا د خوښـې رول نه ادا کوي. د ۲۰۱۸ کال پـه سـپټمبر میاشـت کـې چـې زلمـي خلیلـزاد د افغـان سـولې پـه برخـه کـې د امریـکا ځانگـړی اسـتازی وټاکل شـو، داسـې انگېـرل کېـده چـې ښـایي زلمـي خلیلـزاد بـه د پاکسـتان پـر خـلاف گامونـه پورتـه کـړي، خـو د ۲۰۱۸ کال پـه جنوري میاشـت کـې سـناتور لینډسـې گراهـم (Lindsay Graham) پاکسـتان تـه د خپـل سـفر پـه لړ کـې د لومـړي وزیر عمـران خـان او ولسـمشر ټرمـپ مخامـخ لیـدو تـه زمینـه برابـره کـړه او دې سـفر یـو ځـل بیـا پاکسـتان تـه دا فرصـت پـه لاس کـې ورکـړ، څـو پـه افغان سـوله کـې خپله ونډه وښـیي. د ۲۰۱۸ کال پـه ډسمبر کـې سـیمې ته د افغان سـولې لپاره د امریکا د ځانگـړي اسـتازي پـه توگـه زلمي خلیلزاد د خپـل لومړني سـفر پـه ترڅ کـې پـه لیکنـې بڼـه پـه افغـان سـوله کـې لـه عمـران خان څخـه د مرسـتې جـدي غوښـتنه وکـړه. تر دې چـې د لومـړي وزیر عمـران او ټرمپ تر منـځ د ۲۰۱۹ کال پـه جولای کـې لومړنۍ لیدنـه وشـوه او پـر افغـان سـوله یـې هـم خـبرې وکـړې.

لـه امریکایـي چارواکـو پرتـه، د افغـان حکومـت پخوانیـو او اوسـنیو لوړپوړو چارواکـو پـر پاکسـتان لـه دې املـه سـختې نیوکـې کولـې، چـې گواکـې طالبان او هغه نـورې اورپکـې ډلـې چـې پـه افغانسـتان کـې جگـړې کـوي، د یـاد هېـواد ملاتـړ لـه ځـان سره لـري. خـو پاکسـتانیو چارواکـو وار پـه وار د افغـان حکومـت او امریکا ټولـې نیوکـې رد کـړې او پـه افغانسـتان کـې سـوله یې د پاکسـتان لپـاره هم گټوره بللې ده. د پاکسـتانیو چارواکـو پـه وینـا، له افغـان جگـړې څخه پاکسـتان هم تـر ډېره زیانمـن شـوی دی.

**پاکستان له چا سره دی؟**

افغـان طالبانـو د امریکا او متحدینـو پـر خـلاف یـې د روان کال د فـبروري میاشـتې تـر ۲۹مـې پـورې جگـړه کولـه؛ خـو د فـبروري پـه ۲۹مه کله چـې د افغان سـولې په اړه امریکا او طالبان یوې نسـبي هوکـړې تـه ورسـېدل، دواړه لوري د شـوې هوکـړې پـر بنسـټ پـر یـو بـل حملـې نـه کـوي. د دوحـې هوکـړې لـه مخـې، افغان حکومـت د طالبانو پنځـه زره او طالبانو بیا د افغـان حکومـت زر تنـه بندیـان خوشـې کـړل، کـه څـه هـم د بندیانو خوشـې کېدو لـړۍ چـې ټاکل شـوې وه د دوحې له تړون لـس ورځـې وروسـته پای ته ورسـېږي؛ مگر شـاوخوا شـپږ میاشـتې وخت یې ونیـو. په یـاده مـوده کـې پاکسـتان لـه دواړو خـواوو غوښـتنه کوله چې بندیان خوشـې کړي، څو بیـن الافغانـي خبرو اتـرو ته ورسـېږي. د افغـان حکومت لخـوا د طالب بندیانـو د نـه خوشـې کېـدو پـر وخـت طالبانـو پاکسـتان ته سـفر وکړ، خو کله چې افغان حکومـت د پاتـې ۴۰۰ طالـب بندیانـو خوشـې کېـدو په اړه مشـورتي جرگـه راوغوښـته چـې د جرگـې د هغـې پرېکـړې لـه مخـې، چـې پاتـې طالـب بندیـان دې خوشـې کـړای شي، پاکسـتان ورځنـې تود هرکلـی وکـړ او د بیـن الافغانـي خـبرو اترو پـه پرانیسـت غونډه کـې پاکسـتاني لوري بیـا ځلـې څرگنـده کـړه، چې افغـان جگړه چـې پاکسـتان پکـې لـه امریکا او طالبانو سره وخـت تـه پـه کتـو دوسـتانه اړیکـې لرلـې، یـوازې د خـبرو اترو لـه لارې پای ته رسـېدلی شي او هیـڅ ډول نظامـي حل نه لري.

**پاکستان په افغانستان کې څرنگه سوله غواړي؟**

پـه سـیمه کـې پاکسـتان هغـه هېـواد دی چـې پـه افغـان سـوله کـې مهـم رول لـري. ولـې لـه یـوې خـوا پـه افغانسـتان کـې د هنـد رول چـې پـه افغانسـتان کـې یـې شـاوخوا ۴.۲ بلیونـه پانگونـه کـړې، د بېلگـې په توگه، د سـلما بند، چابهار بندر، د پارلمـان ودانـۍ جوړولـو تر څنگ ځینې نـورې غټـې او وړې پرمختیایي پروژې پلې کـړې دي او بلخـوا لـه افغانسـتان څخـه د امریکایـي ځواکونـو وتلو پاکسـتان دې ته اړ کـړی څـو نـه یـوازې د طالبانـو؛ بلکـې د افغـان حکومـت او پـه ځانگـړې توگـه هغو افغـان چارواکو سره چې هنـد ورسره نږدې اړیکـې لـري، د افغان سـولې په برخه کې مرسـته پراخـه کـړي او پـه دې توگـه هغـه وېره چـې هند بـه له افغـان خاورې څخه د یاد هېـواد پـر ضد گټه پورته کـړي، تر یو بریـده راکمـه کـړي.

پاکسـتان چـې وړانـدې بـه یـې لـه افغـان حکومت او امریکا څخه د امتیاز اخیسـتو لپاره پـر طالبانـو فشـار راوړ، مگـر دا چـې اوس طالبـان د پخـوا پـه نسـبت د نـړۍ پـه سـطحه پراخ ملاتړ او ځانگړې پېژندگلوي لـري او پاکسـتان پـر هغـوی لـه فشـار واردولـو څخـه یـو څـه لـرې شـوی دی، تـر دې چـې پاکسـتان د بیـن الافغانـي خبرو اتـرو کوربهتـوب هـم نـه شي کولـی، یـاد هېـواد غواړي افغـان حکومـت او امریکا ته وښـیي چـې د سـولې پـه برخه کـې مرسـته کـوي او پـه دې توگـه ځان پـه افغان سـوله کـې پـه یـو ډول دخیـل وگڼـي.

بلخـوا پاکسـتان اړ دی څـو د CPEC پـروژې کامیابېـدو لپـاره پـه افغـان سـوله کـې مرسـته وکـړي، ځکـه د یـادې پـروژې لومـړني پرمختیایـي کارونـه پـه پاکسـتان کـې تـر سره کېږي او په افغانسـتان کې د ناامنـۍ پـه صورت کې یـاده پـروژه له خنډ سره مـخ کېدلـی شي، چـې د پاکسـتان اوسـنی کمـزوری اقتصـادي وضعیـت لاپسـې کمـزوری کولـی شي.

د سـویلي آسـیا پـه اړه امریـکا پـه خپلـه پالیسـۍ کـې هنـد تـه ډېر ارزښـت ورکـړی، پاکسـتان اړ دی څـو داسـې گامونـه پورتـه کـړي چـې پـه افغانسـتان کـې د سـولې له راتـگ سره د راتلونکـي حکومـت ملاتـړ لـه ځـان سره ولـري.

لـه شـکه پرتـه پـه افغانسـتان کـې تلپاتـې سـوله د سـیمې هېوادونـو لـه ملاتـړ پرتـه ناممکنـه ده، ځکـه پـه سـیمه کـې د لویـو قدرتونـو چیـن او امریکا گټـو د افغـان سـولې مسـئله لاپسـې پیچلـې کـړې ده. په افغانسـتان کـې تلپاتـې سـوله د سـیمې هېوادونـو او پـه ځانگـړې توگـه د پاکسـتان پـه گټـه ده. کـه څـه هـم پاکسـتاني چارواکـي وخـت پـر وخـت پـر دې خـبرې ټینـگار کـوي چـې گواکـې هنـد افغـان خـاوره د پاکسـتان پـر خـلاف کاروي، کـه چېرته پاکسـتان غـواړي دا ډول اندېښـنې یـې راکمـې شي، نـو حتمـي ده چـې د افغـان سـولې پـه برخـه کـې خپـل کلیدي رول ولوبـوي او کـه چېرتـه پـه افغانسـتان کـې ناامنـي وي، نـو د پاکسـتان دا ډول اندېښـنې بـه لاپسـې زیاتـې شي.

# د دوحې په پروسه کې ځنډ؛ د څه لپاره؟

مرسلین ارسلا

د شخړې او سولې په مطالعاتو کې د سولې واقعي پروسې پیل ته رسېدل پخپله یو ستونزمن او وخت نیوونکی پړاو دی. د نیپال د سولې مذاکراتو پروسه د دې پیچلي او نازک حالت د بیان لپاره یوه ښه بېلگه ده. د سولې د مذاکراتو د اصلي پړاو پیل هغه مهال لا ستونزمن او پیچلی کیږي، چې د افغانستان د شخړې په څېر په جگړه کې یو بهرنی عامل ښکیل وي. د سولې مذاکراتو د مقدمې لپاره دوې لارې شته: لومړی د شخړې دواړه لوري دې هوکړې ته سره رسیږي چې له بهرني منځگړې پرته سره خبرو ته کېني او یا دا چې یو بهرنی عامل د شخړې د پای په هدف د مذاکراتو د پیل لپاره منځگړیتوب کوي.

د سولې د مذاکراتو له رسمي پیل دمخه، د شخړې د دواړو لورو هویت باید مالوم او تعریف شوی وي او د مذاکراتو په لړ کې د کېدونکو توافقاتو د عملي کیدو د تضمین لپاره مقابل لوری دا هویت په رسمیت وپیژني؛ خو د افغانستان د سولې مذاکراتو د پیل له لومړۍ ورځې د دې اصل په اړه پاراډاکس موجود دی. طالبان له ۲۰۰۱ کال راهیسې په روانه جگړه کې امریکا متحده ایالات د خپل مقابل لوري په توگه پیژني او «افغانستان ته د سولې راوستو» توافق یې هم له واشنگټن سره لاسلیک کړ. خو د امریکا متحده ایالات د افغانستان د سولې په پروسه کې ځان د سولې «له مذاکراتو د ملاتړي» په توگه یاد کړی. د پاکستان صدراعظم عمران خان هم په واشنگټن پست کې په خپله وروستۍ مقاله کې د امریکا او طالبانو تر منځ د سولې توافق د بین الافغاني مذاکراتو د زمینه ساز په توگه یاد کړی. پاکستان د افغان سولې په پروسه کې ځان تسهیل کوونکی بولي، خو افغان دولت بیا پاکستان د طالبانو د ملاتړي دولت په توگه یادوي.

**د اختلاف ټکي**

د افغانستان د سولې مذاکراتو اوسنی وضعیت چې د مذاکراتو ادبیاتو کې «خبرو ته د زمینه سازۍ لپاره خبرې» (Talks for Talks) بلل کیږي، د لاندې اختلافي مسایلو له امله له ځنډ سره مخ شوی: د طالبانو غوښتنه دا ده چې په مذاکراتو کې د شرعي بحثونو استناد دې حنفي مذهب وي، د واشنگټن او طالبانو تر منځ د ۲۰۲۰ کال د فبروري د ۲۹مې نېټې هوکړه دې د بین الافغاني مذاکراتو اساس وي؛ خو د افغان دولت پلاوی یوازې پر حنفي مذهب استدلال د اساسي قانون او افغان وگړو د حقونو نقض بولي. د افغان دولت پلاوي د سولې مشورتي جرگې پرېکړه لیک د بین الافغاني مذاکراتو د اساس په توگه پیشنهاد کړی او د طالبانو د وړاندیز خلاف وایي، چې د واشنگټن او طالبانو تر منځ د سولې پر هوکړه لیک دوی نه لاسلیک کړی او نه یې د توافقاتو په جریان کې ښکیل وو.

د امریکا متحده ایالاتو په تېرو دریو اونیو کې د سولې په پروسه کې د رامنځ ته شوي ځنډ په اړه اندېښنه ښودلې، خو د اختلافي ټکو په باب یې موقفگیري نه ده کړې. د امریکا د بهرنیو چارو وزیر مایک پامپیو د سپټمبر په ۱۲مه په دوحه کې بین الافغاني مذاکراتو ته په پرانیستونکې وینا کې وویل چې: «امریکا نه غواړي د خپلې خوښې سیاسي نظام د نړۍ په بل هیواد په زور ومني». د سپټمبر په ۲۳مه د امریکا د مشرانو جرگې په استماعیه غونډه کې د مشرانو جرگې غړي ټام مالوینسکي په ډاگه وویل، چې «له القاعدې سره د اړیکو نه پرې کول او د جگړې په ډگر کې د اور بل ساتل ښیي چې طالبان د سولې د ټینگښت په لټه کې نه دي، بلکې قدرت ته د رسیدو هڅه کوي.» په سیمه کې روان وضعیت ته په کتو، د سولې د مذاکراتو په دې لومړي پړاو کې د طالبانو لخوا د مذهب په څېر د ځینو لویو مسایلو راپورته کول د بحث وړ دي.

د امریکا د بهرنیو چارو وزیر د عراق له ولسمشر بهرام صالح سره په وروستیو ټلیفوني خبرو کې ویلي، چې امریکا په عراق کې د ایران له ملاتړه د برخمنو شیعه ډلو له فعالیتونو په تنگ شوې او خبرداری یې ورکړی که د عراق حکومت د دغو ډلو له لوري د امریکا پر سفارت د توغندیزو بریدونو مخه ونه نیسي، نو واشنگټن به په بغداد کې خپل سفارت وتړي. د ایران د سیاسي- نظامي نفوذ په اړه د امریکا دا اندېښنه چې د اسلامي ایډیالوژۍ په بنه تر سره کیږي، له سوریې او یمن او لبنان رانیولې بیا تر افغانستان پورې موجوده ده. د امریکا د بهرنیو چارو وزارت د روان میلادي کال د جون په میاشت کې د افغان وگړو د شمېر په اړه په یوه راپور کې د افغان شیعه مذهبه وگړو شمېر خپور کړ، چې وروسته بیا د جمهور رییس د مرستیال سرور دانش په گډون، ځینو شیعه مذهبه سیاسي څېرو په دغه راپور کې ورکړل شوې شمېرې کمې وښودې او اندېښنه یې څرگنده کړه.

**د سولې او جگړې گرم ډگر**

یوازې د روان میلادي کال د سپټمبر په میاشت کې ۳۸۰ دولتي مامورین د طالبانو په بریدونو کې وژل شوي او ۱۲۵ ملکي افغانانو بیا د جگړو د دواړو لوریو تر منځ په نښته کې ژوند بایللی. د امریکا او طالبانو تر منځ د سولې توافق تر لاسلیک وروسته، افغان دولت هره اونۍ د طالبانو د بریدونو په اړه منظم راپور خپروي او طالبان د جگړې د شدت مسوول بولي؛ خو د طالبانو د مرکچي پلاوي غړی ملا خیرالله خیرخواه بیا د طالبانو بریدونه د دفاعي حالت یوه برخه بولي.

که څه هم د افغان دولت مذاکره کوونکی پلاوی اوربند د مذاکراتو د رسمي پیل لومړنی شرط بولي، خو ظاهراً د امریکا متحده ایالات له لومړي سره اوربند ته د طالبانو په اړ ایستلو کې پاتې راغله او د تمې خلاف دا یې هم پر طالبانو ونه شوی منلی چې د اوږدمهال لپاره دې د شخړو کچه ټیټه وساتي. د تاوتریخوالي د کمولو په برخه کې د ملگرو ملتونو او د امریکا متحدینو، کاناډا او اروپایي ټولنې غوښتنو هم ځای نه دی نیولی، ځکه زلمي خلیلزاد د امریکا د سولې انسټېټیوټ ته په خپله وروستۍ وینا کې وویل، چې فکر نه کوي د افغان دولت او طالبانو تحریک تر منځ دې د سولې توافق تر بشپړیدو په افغانستان کې اوربند ټینگ شي.

تر دې ځایه د سولې خبرو وضعیت دا په ډاگه کوي چې د مذاکراتو د طرزالعمل له بشپړېدو وروسته، د رسمي خبرو د پیل په جریان کې د جگړې دوام د کېدونکو توافقاتو د عملي کېدو بهیر اغېزمنولی شي او د بې باورۍ اوسنۍ فضا به د سولې د وروستي توافق تر لاسلیکه پر خپل ځای وي.

د افغانستان تر راتلونکي سیاسي نظام ورهاخوا، د هیواد د ټول شموله مذهب بڼه هم د امریکا متحده ایالاتو ته ډېره مطرح نه ده او له دې مسئلې څخه د تېرېدو لپاره به پر طالبانو فشار هم را نه وړي؛ ځکه طالبان تر ډېره د حنفي مذهب پلویان دي. دا مذهبي گرایش کولی شي په دوو ډگرونو کې د واشنگټن لپاره گټور ثابت شي. یو به په افغانستان کې له مذهبي وسیلې څخه په استفادې د ایران د نفوذ مخه ونیسي او بل به د داعشي تفکر د ترویج او تطبیق پر وړاندې خنډ شي.

# کابل د مرموزې جگړې ډگر؛

## وسله والو غلاوو، هدفي بریدونو او چاودنو د خلکو ژوند تریخ کړی دی



سره له دې چې په قطر کې د سولې مذاکراتي ټیم د اوربند په رامنځ ته کولو ټینگار کوي، خو په کابل او ولایتونو کې خونړۍ جگړې د افغانانو ژوند تریخ کړی دی. په کابل کې بیا د جگړو تر څنگ وسله والې غلاوې او مافیایي کړۍ نور هغه عوامل دي چې پر خلکو یې لاره ورکه کړې او د ژوند نظم یې ور گډوډ کړی دی. بلخوا امنیتي اداري په تشو ژمنو د خلکو د ارامولو هڅه کوي او ځانونه بریالي ښیي. د بشري حقونو خپلواک کمېسیون هم پر زیاتېدونکې نا امنۍ او هدفي بریدونو اندېښنه ښیي.

په تېرو ۲۴ ساعتونو کې په پلازمېنه کابل کې درې بریدونه وشول او یو ځای پر ځای شوی ماین هم د امنیتي ځواکونو له لوري خنثی کړل شوی دی. د راپورونو له مخې، د کابل ښار د ۱٦مې حوزې د چکرې د تېل ټانک ته څېرمه ناپېژانده وسله والو د لویې څارنوالۍ پر دوو کارکوونکو برید وکړ او ویې وژل. وسله وال له برید وروسته په تېښته بریالي شول، خو د سیمې خلکو د دې پېښې په غبرگون کې لاریون وکړ. خلک وایي، چې حکومت یې د امنیت په تامین کې ناکام دی او ژمنې یې تش په نامه دي. له دې سره هممهاله د کابل ښار د اتمې حوزې اړوند له هېوادوال بلاکونو سره څېرمه پر یوه موټر د چسپکي ماین چاودنه وشوه چې یو کس پکې ووژل شو او دوه نور ټپیان شول. تېر ماښام بیا د کابل ښار د میرویس میدان په سیمه کې هم درنه چاودنه وشوه چې په اړه نور معلومات ور نه کړل شول.

د دې ټولو مسایلو تر څنگ د کابل ښار کوڅې د وسله والو غلو او مافیاوو په محاصره کې وي. کابل ښاریان په ډاډه زړه تگ راتگ نه شي کولی او دا ډلې هره ورځ خلکو ته تلفات اړوي. تېره ورځ د کابل ښار په بگرامیو کې وسله والو غلو د محصلینو موټر درولی و او د نغدو پیسو په گډون یې ټول توکي ترې وړي وو. دا ټول هغه څه دي چې د کابل د پولیسو په کمزورۍ دلالت کوي.

له دې سره جوخت د بشري حقونو خپلواک کمېسیون بیا په هېواد کې زیاتېدونکی تاوتریخوالی د جدي اندېښنې وړ بولي. دغه کمېسیون تېره ورځ په یوه خپره کړې اعلامیه کې ویلي چې د روان کال په لومړیو شپږو میاشتو کې ۹۴۵ ملکي کسان د هدفي وژنو قرباني شوي چې له دې ډلې ۵۳۳ یې وژل شوي او ۴۱۲ نور ټپیان دي. د بشري حقونو خپلواک کمېسیون وایي چې د ملکي وگړو وژل او د دوی په نښه کول ستر بشري جنایت دی او دواړو لورو ته په کار ده چې د ملکي وگړو ژوند ته متوجه خطرونه له منځه یوسي. د سرچینې په خبره: ((د تاوتریخوالي دوام، د ملکي وگړو په نښه کول، هدفي بریدونه او خونړۍ جگړې د سولې له روانو هڅو سره په ټکر کې کړنې دي چې له دې سره هممهاله هدفي بریدونه هم ډېر شوي او کمېسیون یې په کلکو ټکو غندي)).

د بشري حقونو خپلواک کمېسیون د جگړې له ښکېلو لورو غوښتي چې ټولو نړیوالو بشردوستانه اصولو ته درناوی وکړي او د کمېسیون هغه غوښتنې ته پام وکړي چې له مخې یې اوربند او د تاوتریخوالي کمول باید کم کړل شي.

یاد کمېسیون دغه راز له حکومت هم غوښتي چې د خپلو خلکو د خوندیتوب لپاره دې هڅې ډېرې کړي. د دغه کمېسیون په اعلامیه کې راغلي چې حکومت د خپلو وگړو په ساتلو مکلف دی او دوی باید د عامو وگړو، مذهبي اقلیتونو، دیني علماوو او بشري حقونو د مدافعانو امنیت تامین کړي.

بلخوا د کورنیو چارو وزارت امنیتي مرستیال بیا تېره ورځ د کابل ولایت له امنیتي مسوولینو او د حوزو له آمرینو سره په لیدنه کې له دوی غوښتي چې ژر تر ژره دې د خلکو د امنیت لپاره خپل اقدامات لا ډېر کړي. امنیتي معین ویلي چې خلک د کابل له ناوړه امنیتي وضعیت شکایت کوي او د حوزو د آمرینو دنده ده چې په دې برخه کې خپل فعالیتونه همغږي او پراخ کړي.

# په اروپا د کرونا دویمه څپه؛

## راپورونه: په اروپا کې د کرونا ویروس مثبتې پېښې یو ځل بیا اوج ته رسېدلي دي

د راپورونو له مخې، په اروپا کې پر کرونا ویروس د خلکو د اخته کېدو پېښې یو ځل بیا اوج ته رسېدلي دي. په وروستیو څو ورځو کې په گڼو اروپایي هېوادونو کې په ورځني ډول د ریکارډ تر کچې کسان پر یاد ویروس اخته کېږي.

د وروستیو شمېرو له مخې، اروپایي ټولنې او برېټانیا د ورځې په اوسط ډول په کرونا ویروس د خلکو د اخته کېدو نږدې ۴۸۰۰۰ پېښې هم ثبت کړې دي. دا په اپرېل میاشت کې چې د ویروس خپرېدل په اوج کې وو او د دې لویې وچې په زیاتو برخو کې پر کرنتین نافذ شوی و، تر ټولو لوړ شمېر دی.

په فرانسه کې کرونا ویروس له کبله د مړو شمېر ۳۲زره ۱۹۸ ته رسېدلی، خو په روغتونونو کې د ناروغانو د بسترېدو له زیاتوالي سره دا شمېر ښایي نور هم زیات شي.

په فرانسه کې تېرو ۲۴ ساعتونو کې پر کرونا ویروس د ۱٦ زره ۹۷۲ کسانو اخته کېدل او د ۴۹ کسانو مړینه ثبت شوې، چې دا شمېر بې سارې گڼل کېږي. په ورته وخت کې د فرانسې په زیاترو ښارونو کې ان دباندې هم د ماسکونو کارول جبري دي.

په برېټانیا کې هم پر کرونا ویروس د ۱۲ زره ۸۷۲ کسانو د اخته کېدو بې سارې شمېر ثبت شو، چې دا د کرونا وبا د خپرېدو له پیل راهیسې تر ټولو لوړ شمېر گڼل کېږي. په برېټانیا کې د کرونا ویروس دویمه څپه راغلې او د دغه ویروس له کبله د مړو شمېر پکې ۴۲زره ۳۱۷ ته رسېدلی دی. د برېټانیا د ٦٦ میلیونه وگړو پر دریمه برخه یې سخت کاربندیز یا لاک ډاون او محدودیتونه لگول شوي دي.

په ورته وخت کې په نوره نړۍ کې هم د دغه ویروس پراختیا یوځل بیا چټکه شوې ده. د تازه شمېرو له مخې په ټوله نړۍ کې د کرونا ویروس مثبتې پېښې له ۳۵ میلیونو اوښتې، یو میلیون او ۳۸ زره او ۸۹۸ کسان یې مړه کړي او له ۲٦ میلیونو ډېر تېر بېرته رغېدلي دي.

د امریکا متحده ایالتونه د دغه ویروس د ډېرو قربانیانو او مثبتو پېښو له اړخه د نړۍ تر ټولو مخکښ هېواد دی. په دغه هېواد د ولسمشر ټرمپ او د هغه د مېرمنې میلانیا ټرمپ په گډون له ۷.٦ میلیونو ډېر کسان پر دې دغه ویروس اخته شوي او ۲۱۴زره او ۲۸۰ امریکایان یې مړه کړي دي. تر امریکا وروسته هند، برازیل، روسیه او کولمبیا په ترتیب سره دویم، درېیم، څلورم او پنځم هغه هېوادونه دي چې د کرونا ډېر مثبتې پېښې پکې ثبت شوې دي.

## د کتــاب خبــرې

# افغانستان او سیمه‌ییزه همکاري فرصتونه او ستونزې

© لیکوال : څېړندوی محمد سرور احمدزی

### څلورم فصل

### د سیمه‌ییزې همکارۍ پروړاندې پرتې ستونزې



**د ـ سرحدي ستونزې او د اوبو د وېش په اړه اختلافونه**

زموږ په سیمه کې ډېر هېوادونه له یو بل سره د سرحدونو او پولو د ټاکلو پر سر اختلافونه لري ، هند او پاکستان له لسیزو راهیسې د کشمیر د شخړې پر سر له یو بل سره اختلافونه لري او څو ځله دواړو هېوادونو د سرحدي اختلافونو له امله له یو بل سره جګړې هم کړي دي . افغانستان او پاکستان د ډیورنډ کرښې پر سر اختلافونه لري، افغانستان هېڅکله د ډیورنډ کرښه د یوې نړیوالې پولې په توګه په رسمیت پېژندلې نه ده، د مرکزي اسیا هېوادونه هم له یو بل سره د پولو ټاکلو پرسر اختلافونه لري، د بېلګې په توګه تاجکستان د سمر قند او بخارا او د اوبو د وېش پرسرله ازبکستان سره ستونزې او اختلافونه لري، چین او هند له یو بل سره د سرحد او پولوټاکلو پرسر شخړې او اختلافونه لري، نو د سیمې د هېوادونو ترمنځ سرحدي ستونزې او اختلافونه په سیمه کې د سیمه‌ییزې همکارۍ د پراختیا پر وړاندې جدي خنډ او اساسي ستونزه ګڼل کېږي .

د پولو او سرحدونو ترڅنګ د سیمې ډېر هېوادونه له یو بل سره د اوبو د وېش پر سر هم اختلافونه لري افغانستان او ایران د هلمند د اوبو، افغانستان او پاکستان د ډیورنډ کرښې د کابل سیند، هند او پاکستان، هند او چین د اوبو او تاجکستان او ازبکستان د اوبو دوېش پر سر اختلافونه لري، د سیمې هېوادونو ته اوسني اختلافونه د انګرېزانو د استعمار له وخت څخه په میراث پاتې شوي او د لسیزو له تېرېدو وروسته هم د سیمې د هېوادونو مشران پر دې نه دي توانیدلي چې د اوبود ویش او د پولوټاکلو پرسر اختلافونه او ستونزې حل کړي داوبو د وېش او د سرحدونو ټاکلوپرسراختلافونه د سیمه‌ییزې همکارۍ د پراختیا پر وړاندې یو مهم خنډ ګڼل کېږي او د سیمې د هېوادونو ترمنځ د همکاریو د پراختیا مخه نیسي .

**هـ ـ د اورګاډي د پټلۍ له سیمه‌ییزو شبکو سره نه نښلیدل :**

افغانستان د اورګاډي له سیمه‌ییزو شبکو سره وصل شوی نه دی، د افغانستان په ګاونډ کې د اورګاډي درې شبکې شته ،د مرکزي اسیا د اورګاډي د پټلۍ شبکه چې د روسي سیستم له مخې جوړه شوې، د پاکستان د اورګاډي د پټلۍ شبکه چې د انګلیستان سیستم له مخې جوړه شوې او دریيم د ایران د اورګاډي شبکه چې د نړیوالو ستنډردونو له مخې جوړه شوې ده . پورتنۍ د اورګاډي پټلۍ د افغانستان تر پولو پورې رارسېدلي دي او بیا قطع شوي . د اورګاډي له سیمه‌ییزو شبکو سره د افغانستان نه وصل کېدل د افغانستان او د سیمې د هېوادونو ترمنځ د همکاریو د پراختیا پروړاندې یوه مهمه اوستره ستونزه ګڼل کېږي .

**و- سیمه‌ییزې همکارۍ ته لږه پاملرنه اوپه نړیوالو مرسته تکیه کول**

د افغانستان حکومت په خپل بهرني سیاست کې د اقتصادي ګټو، مسایلو او اهدافو پر ځای سیاسي او امنیتي مسایلو او ګټو ته لومړیتوب ورکاوه او د سیمې له هېوادونو سره زموږ اقتصادي اړیکې له سیاسي اړیکو څخه اغېزمنې وې. د افغانستان مشران پر دې ونه توانیدل چې اقتصادي او سیاسي مسایل له یوبل سره جلا کړي او په دې اړه د سیمې د نورو هېوادونو ملاتړ ترلاسه کړي. د افغانستان حکومت د سیمې له هېوادونو سره د اقتصادي همکاریو د پراختیا لپاره اقتصادي تګلاره نه لري، د تګلارې د نشتون ترڅنګ له یوه لوري د افغانستان حکومتي او سیاسي مشرانو سیمه‌ییزې همکارۍ په اړه زیات معلومات نه درلودل خو په دې وروستیو کې د افغانستان حکومت سیمه‌ییزې همکارۍ ته پاملرنه وکړه او له بل لوري د افغانستان په حکومت کې کافي مسلکي،تخنیکي او بشري ظرفیت نشته چې په وسیله یې وکولای شي په مختلفو برخو کې د سیمې له هېوادونو سره خپلو همکاریو ته پراختیا ورکړي.زموږ حکومت تر ډېره حده پورې د نړیوالې ټولنې په مرستو تکیه کوله، نو له همدې امله موږ پر دې ونه توانیدو چې د سیمې له هېوادونو سره سیمه‌ییزې همکارۍ ته پراختیا ورکړو.

**ز- مذهبي او ایډیالوژیک اختلافونه او شخړې**

زموږ په سیمه کې ډېر هېوادونه له مذهبي او ایډیالوژیکي پلوه له یو بل سره اختلافات او توپیرونه لري .په چین کې چې د سیمې یو مهم هېواد دی کمونیست ګوند واکمن دی، په ایران کې له شعیه اسلام څخه اغېزمن اسلامي رژیم د ی چې د سیمې له سني هېوادونو سره اختلافات او شخړې لري په روسیه کې سیکولر ایډیالوژي واکمنه ده، په مرکزي اسیا کې د اسلامي ډلو او اسلامي عقیدې له پراختیا سره مخالفه ده، پاکستان کې سني مذهب حاکم دی، هند سیکولر هېواد دی، د مرکزي اسیا په هېوادونوکې سیکولر ایډیالوژي حاکمه ده، نو مختلف مذهبي او ایډیالوژیک لیدلوري د دې سبب شوي چې د سیمې هېوادونه د سیمه‌ییزې همکارۍ په تړاو یو واحد نظر او لیدلوری رامنځته نه شي کړای، نو ویلای شوچې د سیمې د هېوادونو ترمنځ مذهبي او ایډیالوژیک اختلافونه اوتوپیرونه د سیمه‌ییزې همکارۍ د پراختیا پر وړاندې ستر خنډ ګڼل کېږي.

**دوام لري...**

# فراه

حشمت الله نوري



فراه د افغانستان په لوېدیځ کې د هېواد یو له پراخو ولایتونو څخه دی. دغه ولایت له هرات، نیمروز، هلمند او غور سره د ګډې پولې د لرلو تر څنګ، په لوېدیځ کې له ایران سره ۲۹۰ کیلومتره پوله لري او مرکز یې (فراه ښار) له پلازمېنې کابل څخه ۸٤۰ کیلومتره لرې پروت دی.

د فراه ښار، د دغه ولایت مرکز دی او پشت رود، خاک‌سفید، بالابلوک، پرچمن، ګلستان، بکواه، لاش جوین، شیب کوه، پشت کوه او انارډره یې ولسوالۍ دي.

ځینو سرچینو د دغه ولایت مساحت (۴۹۰۰۰ کیلومتره مربع ) او د وګړو شمېر یې شاوخوا یو میلیون تنه اټکل کړی دی.

په دې ولایت کې چې ټول ۱۲۶۵ کلي لري، پښتانه، تاجک، ایلات، مغل، سادات، بومدي، ایماق، براهوي، بلوچ او نور قومونه اوسېږي، خو اکثریت یې پښتانه دي.

د دې ولایت ډېر وګړي سني دي او اهل تشیع یوازې د فراه په مرکز او ګلستان، جوین او پشت رود ولسوالیو کې اقلیت دي.

د بکواه او خاک‌سفید ولسوالیو ټول اوسېدونکي پښتانه دي، په پرچمن کې پښتانه نشته او د مرکز په ګډون د دې ولایت په پاتې نورو سیمو کې بېلابېل قومونه ګډ ژوند کوي.

فراه چې د شیخ ابونصر فراهي او عطاملک جویني اصلي ټاټوبی دی، په مرکز او بېلابېلو ولسوالیو کې لرغوني او تاریخي ځایونه لري.

د «کک کهزاد» کلا چې له دوو زرو کلونو زیاته لرغونتیا لري، د دغه ولایت یو له تاریخي ځایونو څخه ده. دغه کلا د فراه ښار سوېل- ختیځ خوا ته ۱۵ کیلومتره لرې د غره پر سر له کاڼو، پخو خښتو او ګچ څخه جوړه ده او د ډېرو برجونو تر څنګ دوه ودانۍ هم لري .

د فراه په مرکز کې «فریدون کلا» چې په (زوړ ښار) مشهوره ده، د «سیستان» تاریخ او «شهنامه فردوسی» له روایاتو سره سم له دوو زرو کلونو زیاته لرغونتیا لري. دغه کلا پر شاوخوا ۳۰۰ جریبه ځمکه له خټو او خامو خښتو جوړه شوې او ۹۹ برجونه لري.

د لاش جوین کلا او د پشاوران ښار په نوم سیمه په جوین ولسوالۍ، د شیخ ابونصر فراهي زیارت، د سلطان امیر زیارت، بارندک او کافرکلا په مرکز، د کنسک د شهیدانو زیارت په بالابلوک ولسوالۍ او پنج جفت ګاو کلا، چارماس کلا، هفت سوراخ برنګک، مساو کلا، شهرکهنه کلا، د سیدمحمد زیارت او د شاه مبارک زیارت د دې ولایت له مشهورو لرغونو ځایونو څخه دي .

باغ پل، باغ نو، باغ کافي او د سلطان امیر زیارت او کافر کلا د فراه ښار تفریحي ځایونه دي.

په فراه کې تر ۸۰ سلنه ډېر خلک پر کرنه بوخت دي او ډېر باغونه لري، چې انار یې تر ټولو مشهوره مېوه ده انګور، هندوانه، توت، منې، الوچې، زردالو، انځیر، شفتالو، ګرنګیچ، خرما، پسته او نور هم د دې ولایت له میوو څخه دي .

ډېر بزګر په دې ولایت کې غنم او کچالو کري . پخوا تر ټولو ډېر غنم په بکواه کې چې پراخه دښتې لري کرل کېدل، خو اوس یې تر ډېره ځای کوکنارو نیولی دی. دغه راز په دې وروستیو کې په فراه کې بزګرانو د شنو خونو جوړولو ته مخه کړې. په دغو شنو خونو کې د ژمي په موسم کې بېلابېل سابه کرل کېږي.

که څه هم اړوندو ارګانونو په فراه کې د کانونو په اړه کره او مستند معلومات نه دي وړاندې کړي، خو د سیمې خلک او ځینې چارواکي وایي، شته اثار ښیي چې په دې ولایت کې بېلابېل کانونه شته.

د یادو سرچینو د معلوماتو له مخې، په پشت کوه ولسوالۍ کې د مالګې، په پرچمن او ګلستان ولسوالیو کې د مسو او سمینټو لپاره د اړینو موادو، د فراه په مرکز کې د تېلو د چونې، د فراه په جنوبي سیمو کې لیتیم، په بکواه ولسوالۍ کې یورانیم، په بالابلوک کې سرب، په ګلستان کې اوسپنه، د پشت رود په مشهور غره (بي بي چه باران) کې د زنګ ضد موادو، په لاش جوین ولسوالۍ کې د تېلو او ګازو او په انارډره ولسوالۍ کې د سپینو زرو او مسو، په پرچمن کې د اوسپنې، یورانیمو، ډېرو سکرو، کرومایت او سلیکان کانونه شته.

د پشت کوه ولسوالۍ د مالګې له کانونو شاوخوا ٤۰ کاله مخکې مالګه استخراج او پلورل کېده، خو دغه کار وروسته له هغه په ټپه ودرېد، چې ایرانۍ او پاکستانۍ مالګې د هېواد بازارونو ته راغلې .

د طالبانو د واکمنۍ پر مهال د فراه د مرکز اړوند په چهارباغ سیمه کې د تېلو یو څاه موندل شو او ځینې بهرنۍ موسسې هم د پلټنو په موخه دې سیمې ته ورغلې، خو د سیمې خلکو له دې امله هلته د کار کولو اجازه ورنه کړه، چې هلته د یو پیر قبر دی . د طالبانو تر واکمنۍ وروسته هم ځینې بهرنیان دې سیمې ته ورغلي، خو خلکو ورته د کار اجازه نه ده ورکړې.

د غالیو اوبدل د فراه له مهمو لاسي صنایعو څخه دي. یو وخت د فراه غالۍ اروپایي هېوادونو ته صادرېدې او د دې ولایت ډېرو ښځو غالۍ اوبدلې . خو اوس د غالیو لپاره د ښه بازار د نشتون له امله د غالیو د تولید کچه په دې ولایت کې رالوېدلې ده . دغه راز د خولیو اوبدل، خامک دوزي، یخن دوزي او نور هم د دې ولایت له لاسي صنایعو څخه دي.

په دې ولایت کې ځینې ښځې د بانجانو روب او اچار هم جوړوي او ځینې یې رومي بانجان، پیاز او مرچ وچوي او پلوري یې .

فراه ټول څه باندې ۳۰۹ ښوونځي لري چې ۷۹ یې لېسې، ۱۰۳ یې منځنۍ ښوونځي او ۱۲۷ یې لومړني ښوونځي دي. په دې ښوونځیو کې د ۱۶۸۹ نارینه او ۱۰۳۹ ښځینه ښوونکو لخوا په لوړه کچه هلکانو او نجونو ته زده کړې ورکول کېږي. دغه راز په دې ولایت کې د دیني زده کړو ۱۶ مرکزونه دي، چې یو یې دارالعلوم، ۱۱ یې تر ۱۲م ټولګي دیني مدرسې او ۳ یې دارالحفاظونه دي.

د فراه په مرکز کې د لوړو زده کړو دولتي پوهنتون یو پوهنځی لري ، چې د کیمیا- بیولوژي او ریاضي- فزیک له دوو ډیپارټمنټونو څخه جوړ دی.

د دغه ولایت په مرکز کې د غضنفر د روغتیایي علومو دولتي انسټیټوټ اړوند د نرسنګ او قابلګۍ د زده کړو مرکزونه هم فعالیت لري.

په دې ولایت کې د دولتي پوهنتون تر څنګ، خصوصي پوهنتونونه او ښوونځي هم فعالیت لري او په جوماتونو کې یې د دیني زده کړو درسونه هم شته. همداشان په خصوصي څانګه کې نور د صحي علومو انسټیټوټونه هم شته چې د نرسنګ او قابلګۍ په برخه کې زده کړې ورکوي.

په دې ولایت کې ۵ روغتونونه او ۳۳ کلینیکونه فعالیت لري. یو ۱۰۰ بستریز ولایتي روغتون د فراه په مرکز، یو ۳۲ بستریز روغتون د پشت کوه په ولسوالۍ او یو ۵ بستریز روغتون په پرچمن ولسوالۍ کې فعالیت لري. پاتې ۳۳ کلینیکونه د دې ولایت په بېلابېلو سیمو کې فعالیت کوي. په فراه کې ګرځنده روغتیایي ډلې نشته، خو ۳۸۶ روغتیایي پوستې په بېلابېلو ولسوالیو کې شته. یادې پوستې په کلیو کې دي او په هره پوسته کې یو نارینه او یوه ښځه چې زده کړې ورکړل شوې دي، خلکو ته روغتیایي معلومات ورکوي. پاتې دې نه وي چې خصوصي سکټور هم د روغتیا په برخه کې په یاد ولایت کې پانګونه کړې ده او خصوصي کلینیکونه د دې ولایت په کچه هغه پنځه خصوصي روغتیایي مرکزونه دي، چې د ولایت په مرکز کې فعالیت لري.

په دې ولایت کې د ملي راډیو- ټلوېزیون د خپرونو تر څنګ، په خصوصي برخه کې د فریاد، همګان، سیستان، اوښکه، فراداتا، اُسوه، فراه سپورت، فراه غږ او پاڅون مجلې هم فعالیت لري.

د فراه د خبریالانو خپلواکه ټولنه یوه له دې ټولنو ده، چې په ۱۳۸۸ کال کې جوړه شوې او اوسمهال له څلوېښتو زیات غړي لري .

د افغان ښځې نجات ټولنه، د ښوونکیو ټولنه، د ځوانانو ټولنیزه او ملي ټولنه، د ښځو ذهني ودې بنسټ، هېواد ادبي مرکه، د همګان علمي، فرهنګي او ټولنیز بنسټ، د پیر روښان ادبي او کلتوري ټولنه، د فراه فرهنګي مرکز، د توحید علمي او فرهنګي مرکز، د مسلمانو ځوانانو بنسټ، د خویندو خوځښت، د بزګرانو ټولنه، د فرداتا په نوم د تیاتر او فلم ټولنه، د «ساعتی با کتاب» په نوم انجمن، د ځوانانو ټولنیز بنسټ، د فراه د کارکوونکو ټولنه، د فراه ښار شورا، د ځوان تفکر ټولنیز بنسټ، د فراه د خبریالانو ټولنه، د تېل پلورونکو ټولنه او نور د دې ولایت مشهورې مدني ټولنې دي .

ورزش او لوبې له پخوا زمانو په فراه کې دود دي، لکه: خوسی، ډېره اچول، کبډي، مردکۍ، بوجلي (یابیډۍ )، غېږ نیول، کچه کول، کتار، درې خطی او دا ډول نورې چې ډېری یې په کلیو کې دود دي او اوسمهال په ښارونو او کلیو کې والیبال ،فوټبال، کرکټ او باسکېټبال هم ډېر مینه وال پیدا کړي دي.

همیانی

# د ژوند په لوبه کې د ماتې لاملونه

ژباړه: حمیدالله حمیدي

زموږ په شاوخوا کې ډېر غمجن او ځورېدلي کسان شته چې فکر کوي د ژوند په لوبه کې نه شي گټونکي کېدای. د ژوند په لوبه کې ماتې بېلابېل لاملونه لري چې دلته یې ځینو ته په لنډ ډول اشاره کوو.

لومړی لامل: د ژوند له موخې بې خبر ي

لومړنی لامل چې ځینې کسان هېڅکله د ژوند په لوبه کې نه شي گټونکي کېدای او د بریا او نېکمرغۍ احساس نه شي کولای، دا دی چې د خپل ژوند له موخې او مقصد څخه بې خبره دي.

که چېرې یو څوک د لوبې له موخې او مطلب څخه بې خبره وي، په دې لوبه کې د هغه د بریالي کېدو چانس او بخت څومره دی؟ هېڅ! که چېرې له موخې او مقصد څخه بې خبره وی، ډېره به ستونزمنه وي چې د بریالیتوب او گټلو پر لار پل کېږدي، ډېر ژر به له مسیر څخه ووځی او د داسې ځیزونو په لټه کې به شی چې تاسو ته هېڅکله د بریا احساس نه درکوي او په پایله کې به یوازې د نورو لپاره ژوند وکړی، نه د خپل ځان لپاره.

تاسو باید پر دې پوه شی چې د کوم لامل له مخې ژوند کوی او له ژوند څخه څه غواړی. هر کله چې زه دغه پوښتنه له خلکو سره مطرح کوم او له هغوی څخه پوښتم چې: «له ژوند څخه څه غواړی؟» په ځواب کې راته وایي: «که رښتیا ووایم زه همدومره پوهېږم چې له ژوند څخه هېڅ هم ونه غواړم.» دا ډول چلند هېڅکله موږ هغه څه ته چې غواړو یې، نه رسوي.



تاسو په رښتیا له ژونده څه غواړی؟

«زه غواړم چې له مالي اړخه مې ملاتړ وشي څو وکولای شم پر کور کېنم او تقاعد شم.» ډېر ښه. خو ایا له هغو شمېرنو څخه چې د تقاعد شوو په اړه خپرېږي، خبر لری؟ د بیمې له شرکتونو څخه خپرې شوې شمېرنې او څېړنې ښیي هغه کسان چې تقاعد کېږي، (په ځانگړې توگه نارینه)، له تقاعد شاوخوا درې کاله وروسته له دې نړۍ څخه ځي. د نارینه وو لپاره تقاعد کېدل او پر کور کېناستل د مرگ حکم لري. اوس نو تاسو قضاوت وکړئ، پر کور کېناستل او تقاعد کېدل د ځینو لپاره لویه موخه گڼل کېږي!

ما په یوویشت کلنۍ کې دومره شتمني ټوله کړې وه چې کولای مې شوای پر کور کېنم او ځان تقاعد کړم. عمده موخه مې دا وه چې وکولای شم تر یوویشت کلنۍ پورې له مالي اړخه پر ځان بسیا شم او د ځان ملاتړ وکړم. همغه وو چې پر کور کېناستم او پوره شپږ میاشتې مې هېڅ شي ته لاس هم ور نه وړ. خو پوهېږی چې څه را پېښ شول؟ احساس مې کاوه چې یو بې گټې او بې ارزښته موجود یم. که رښتیا ووایم لومړۍ یوه یا دوې میاشتې یې ډېرې ښې را باندې تېرې شوې، خو له هغې وروسته به تل د ټلوېزیون مخې ته ناست وم او نور نو د لېوني کېدو په حال کې وم. هر څه راته بې ارزښته شوي وو او له هېڅ شي مې خوند نه اخیست. دا چې هېڅ موخه او مقصد مې نه درلود، د ناکامۍ احساس مې کاوه او پر ځان باندې ډېر په غوسه وم. نو پر دې اساس اړینه ده چې د ژوند په لوبه کې د بریالي کېدو او گټونکي کېدو لپاره موخه ولرئ او له دې موخې څخه په پوره توگه پوهه او خبر وی.

دویم: لنډ فکر

بل لامل د دې لپاره چې ډېری کسان د ژوند په لوبه کې نه بریالي کېږي، د دې لنډ فکر درلودل دي چې گواکې د دې لوبې (ژوند) د ټولو قوانینو په مراعاتولو سره بیا هم د بریالي کېدو امکان نشته. یا په بل عبارت، دا کسان وایي چې که چېرې ټول کارونه په ښه توگه تر سره کړو، په خپل ټول وس او توان هڅه وکړو او د زړه له تله په خپل کار کې رښتیني و اوسو، بیا هم کېدای شي چې وضع او حالت زموږ له خوښې سره سم پر مخ ولاړ نه شي، کېدای شي چې له مخالف لوري باد او توپان را والوزي او زموږ کښتۍ ډوبه کړي او یا کېدای شي سېل راشي او هر هغه څه مو چې د ژوند په دغه کرونده کې کرلي دي، له ځان سره به یې یوسي. همدا ده چې لنډ فکر کوو او پوښتو چې: «ولې باید د هڅو لپاره لاس پکار شم؟ زما هڅې بې گټې دي او ان هغه زحمت تېرول هم نه ارزي.» بې خبر له دې چې د هرې پېښې تر شا یوه ژوره مانا پرته ده او هېڅ یوه پېښه له حکمت څخه خالي نه ده. موږ کولای شو د خپلو پوښتنو په بدلولو او د غوره پوښتنو په مطرح کولو سره له هرې پېښې څخه د ځان په گټه کار واخلو. پوښتنې مو لکه: «زه څه ډول کولای شم چې له دې پېښې څخه گټه واخلم؟»، «کېدای شي چې د دې پېښې تر شا کومه بله لویه مانا پرته وي؟»، «څه ډول کولای شم چې دغه پېښه او حالت د خپل راتلونکي لپاره پر یوه ملاتړ بدل کړم؟، «څه ډول کولای شم دا پېښه پر یوه غوره فرصت بدله کړم؟»، «څه ډول کولای شم چې له هغې څخه د خپلو وړتیاوو د پیاوړي کولو او ځان د جوړولو لپاره گټه واخلم»... دا ډول پوښتنې به ستاسو ملاتړ وکړي، په داسې حال کې چې د «اخر ولې زه؟» او یا «ولې دا پېښه یوازې ما ته پېښه شوه؟» په څېر پوښتنو ته به هېڅکله ځوابونه پیدا نه کړی او په همدې حالت کې چې یاست، پاتې به شی.

## ملگري ملتونه: د کرونا ویروس له کبله ۷۳ سلنه افغانان له سختو اقتصادي ستونزو سره مخ دي

په افغانستان کې د ملگرو ملتونو پراختیایي اداره وایي، د کرونا وبا له امله ۷۳ سلنه افغانان له سختو اقتصادي ستونزو سره لاس او گرېوان دي او د بېوزلۍ کچه هم ۱۷ سلنه لوړه شوې ده.

د یادې ادارې په تازه راپور کې راغلي، چې په دغه هېواد کې د کووېډ-۱۹ وبا له امله د اوښتي اقتصادي زیان د جبران لپاره اړتیا ده چې له فساد سره قوي مبارزه وشي، مالیات لوړ شي او صادارتو ته زیات پام وشي.

په افغانستان کې د ملگرو ملتونو پراختیایي اداره زیاتوي چې، کرونا د سیمې په کچه د افغانستان اقتصاد ته زیان اړولی او د دغه هېواد اقتصادي وده یې سخته ځپلې ده. د دې ادارې په راپور کې راغلي، چې افغانستان د نړۍ په کچه د کووېډ- ۱۹ ویروس له امله د ځپل شویو هېوادونو د نوملړ په سر کې راځي او له کبله یې ۷۳ سلنه افغانان له سختو اقتصادي ستونزو سره مخ شوي دي.



د افغانستان لپاره د یادې ادارې استازي عبدالله الدارداري پر افغان حکومت غږ کړی، چې بېرته عادي حالت ته راگرځېدو لپاره اړینه ده چې د خپلو عوایدو راټولو په برخه کې شفافیت رامنځ ته کړي.

هغه زیاتوي: «د افغانستان تلپاتې پراختیایي اهدافو باندې د کووېډ- ۱۹ اغېزه ډېره منفي وه، د بېلگې په توگه که بېوزلي په نظر کې ونیسئ، نو له کووېډ- ۱۹ وروسته په افغانستان کې د فقر کچه ۱۷.۵ سلنه زیاته شوې او لوړه ۰.۵ سلنه نوره هم زیاته شوې.»

الدارداري زیاتوي، چې د دغه وضعیت د جبران لپاره لازمه ده چې افغان حکومت مالیات لوړ، صادارات زیات او د عوایدو راټولو لپاره د فساد مخنیوی وکړي او سکتوري ادارو ته هم بودجه زیاته کړي څو خلک له ناوړه وضعیت راووځي.

په ورته وخت کې د افغانستان د مالیې وزارت هم مني، چې د کرونا له امله په افغانستان کې د بېوزلۍ کچه لوړه شوې، خو د ارقامو په اړه یې څه نه وایي. د دغه وزارت ویاند شمروز مسجدي وایي، دوی له نړیوالو متحدینو سره کار کوي، چې په سختو شرایطو کې له افغانانو سره مرسته وکړي.

## هوایي چلند اداره: باختر هوایي شرکت له جوړېدو سره سم ازمایښتني الوتنې پیل کړې دي

د ملکي هوایي چلند اداره او د باختر افغان هوایي شرکت وایي چې د دغه شرکت ازمایښتي الوتنې یو شمېر ولایتونو ته پیل شوې دي. د ملکي هوایي چلند ادارې ویاند امریکا غږ ته ویلي چې د کرونا وبا د دغه بیارغول شوي شرکت د فعالیت پیلېدو لړۍ ټکنۍ کړې وه او په نږدې راتلوکې کې به یې رسما الوتنې پیل شي.

یاد شرکت وایي، چې وړمه ورځ یې له کابل څخه کندهار ته خپل ازمایښتي الوتنه کړې ده. د باختر افغان هوایي شرکت چارواکي وایي چې یاد شرکت د ښه کیفیت لرلو په برخې کې د (ایکو او ایاتا) نړیوالو بنسټونو پنځه معیارونه بشپړ کړي دي.

د یاد شرکت مشر مسلم خرم ویلي: «موږ پنځه معیارونه بشپړ کړي او په پام کې ده چې دغه شرکت دوه نورې نوې الوتکې وپېري.»

د یادونې ده چې باختر افغان هوایي شرکت اوسمهال یوازې یوه الوتکه لري او په پام کې ده چې دوې نورې الوتکې به له کاناډایي شرکت (ټې هویلنډ) نه وپېرل شي. باختر افغان هوایي شرکت په ۱۳۴۵ هجري لمریز کال کې خپل فعالیت پیل کړی و، کورنۍ او بهرنۍ الوتنې یې ترسه کولې، خو د کورنیو جگړو پیلېدو سره یې ټول بنسټونه له منځه ولاړل.

د ۲۰۱۹ ز کال په ډسمبر کې د افغانستان حکومت د دغه شرکت د فعالیت بیا پیلېدو په اړه ویلي وو چې په شپږو میاشتو کې به دغه شرکت خپل فعالیت له سره پیل کړي، خو د کرونا ویروس د خورېد له امله د هوایي چلند چارې په افغانستان او نړۍ کې ټکنۍ شوې. د یادونې ده چې په تېرو دوو لسیزو کې په افغانستان کې یو شمېر خصوصي هوایي شرکتونو فعالیت پیل کړ، خو د مالي لاملونو له امله یې شرکتونه وتړل شول. اوسمهال آریانا افغان هوایي دولتي شرکت او کام ایر خصوصي شرکت په دغه هېواد کې کورنۍ او یو شمېر هېوادونو ته بهرنۍ الوتنې کوي.

اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۶،۸۰ |
| € | ۸۹،۱۰ |
| Rp. | ۴۷۶ |
| ₹ | ۱۰۳۵ |
| ¥ | ۱۰،۶۰ |
| £ | ۹۸،۳۰ |

### بېړنی شمېرې

پولیس
119 - 100

امبولانس
112

اتاترک روغتون
0202500312

ملالی زېږنتون
0202201377

وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360

رابعه بلخي روغتون
0202100439

د کرونا روغتیایي مرکز
166

مسیر ورځپانه
مسوول مدیر: اسدالله وحیدي
مرستیال: شفیق امیرزی
اېډېټران: جواد تیموري او امان الله حنیفي
خبریالان: حمیدالله حمیدي، حکمت آرین
او حشمت الله نوري
گرافیک او ډیزاین: ارمان
چاپخونه: وایگل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲۶۲۶
۰۷۸۲۹۸۹۶۹۶
maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer
New Vision, New Journey
Daily

غوره کیفیت او چټک خدمات په
وایګل چاپ کې تجربه کړئ!
WAYGAL PRINTING CO
if You Can Think it, we Can ink it.
+93 (0) 202 51 2626, +93 (0) 782 98 9696
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul
waygalprinting.co
waygalprinting.co@gmail.com

دوشنبه د ۱۳۹۹ د تلې ۱۴مه | د ۲۰۲۰ د اکتوبر پنځمه |۶۰۵مه ګڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily


| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننگرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۲۵ | ۲۸ | ۳۲ | ۲۶ | ۳۴ | ۳۰ |
| ۱۱ | ۹ | ۱۳ | ۱۲ | ۱۹ | ۱۶ |

شرعي وختونه: سهار ۰۴:۲۸ | لمر ختل ۰۵:۵۰ | ماسپښین ۱۱:۴۳ | مازیگر ۰۳:۰۲ | ماښام ۰۵:۳۴ | ماخوستن ۰۶:۵۷

## نړۍ




## له نږدې اووه میاشتني ځنډ وروسته د سعودي حکومت بېرته د عمرې ادا کولو اجازه ورکړه



په داسې حال کې چې له تېرو نږدې اوو میاشتو راهیسې په سعودي عربستان کې د کرونا ویروس له کبله د عمرې مراسم ځنډېدلي وو، خو دا مراسم تېره ورځ بېرته پیل شول.
د سعودي عربستان د حج او عمرې وزارت تېره ورځ ویلي چې په محدود ډول د عمرې ادا کولو مراسم بېرته پیل شوي دي.
سرچینې زیاته کړې چې حکومت د عمرې کوونکو لپاره یو اپلېکېشن جوړ کړی چې هلته به ځان راجستروي او بیا په همدې اپلېکېشن کې پر ورکړل شوو معلوماتو عمل کوي.
یاد وزارت په ټینګار سره ویلي چې عمره کوونکي باید د کرونا ضد ټولو احتیاطي تدابیرو عمل وکړي. حکومت ویلي چې اوسمهال ځایي اوسېدونکو او په سعودي کې مېشتو بهرنیانو ته د عمرې ادا کولو اجازه ورکړل شوې، له نورو هېوادونو راتلونکو کسانو ته تر اوسه اجازه نه ده ورکړل شوې.
د حج او عمرې وزارت وایي چې اوسمهال په یوه ورځ کې یوازې شپږ زره کسان د عمرې مراسم ترسره کوي، خو دوې اونۍ وروسته به د ورځې ۱۸ زرو کسانو ته د عمرې او ۴۰ زره کسانو ته په حرم شریف کې د لمونځ اجازه ورکول کېږي.
سرچینې زیاته کړې چې یوه کس ته په دوو اونیو کې د یو ځل عمرې کولو اجازه ورکول کېږي او له یادې مودې وروسته بیا کولی شي په دویم ځل عمره ادا کړي.

## راپورونه: د اذربایجان او ارمنستان د ځواکونو ترمنځ په تازه نښتو کې درنه مرګ ژوبله اوښتې

د راپورونو له مخې، د اذربایجان او ارمنستان ترمنځ په لانجمنه نګورنو قرهباغ سیمه کې د جګړې په دوام، یو ځل بیا د دواړو لورو ترمنځ سختې نښتې شوي چې دواړو لورو ته پکې درنه مرګ ژوبله اوښتې. اذربایجان وایي چې د هېواد پر لوېدیځ ښار ګنجه یې توغندي ویشتل شوي او د ارمنستان دفاع وزارت بیا ویلي چې اذربایجاني ځواکونه په نګورنو قرهباغ کې پر ملکي اهدافو د توغندیو ډزې کوي. د اذربایجان دفاع وزارت پرون په یوه بیان کې ویلي، ارمني ځواکونو د دغه هېواد پر دویم لوی ښار ګنجه چې څه باندې ۳۳۰ زره وګړي لري، برید کړی دی. په هغو بیانونو کې چې د دغه وزارت پر وېبپاڼه خپاره شوي، راغلي چې د ګنجه، تېرتېر او ګورادیز ښارونو کې د ملکي وګړو د استوګنې سیمې د هاوانونو او توغندیو په ډزو په نښه شوي دي. خو ارمنستان دا ادعا رد کړې او ویلي یې دي چې د اذربایجان پر لور د دغه هېواد لهخوا مستقیمې ډزې نهدي شوي، خو د نګورنو قرهباغ د بېلتونپالې سیمې مشر تایید کړې چې د ده تر امر لاندې ځواکونو د اذربایجان په لوېدیځ ښار ګنجه کې یوه پوځي هوایي اډه ویجاړه کړې ده. د یادونې ده چې نګورنو قرهباغ د اذربایجان د قلمرو په توګه په رسمیت پېژندل شوې سیمه ده، خو دا سیمه ارمن تبره بېلتونپال چې له ایروان سره نږدې اړیکې لري، اداره کوي.


## مشرانو جرگه هیأتی را برای بررسی نصب سیم خاردار در خط فرضی دیورند توظیف کرد



مشرانو جرگه، به دنبال اعتراض شماری از اعضای این جرگه مبنی بر ادامۀ نصب سیم خاردار در امتداد خط فرضی دیورند از سوی نظامیان پاکستان، هیأتی را توظیف کرد تا از سرحدات دیدن نمایند.
محمد هاشم الکوزی نمایندۀ مردم هلمند در مشرانو جرگه، در نشست دیروز این جرگه گفت که نصب سیم خاردار از سوی نظامیان پاکستان در مرز ولایت های کندهار، پکتیکا، هلمند، کنر و ننگرهار جریان دارد؛ اما حکومت در مورد خاموش است. موصوف گفت که باید هیأتی از این جرگه برود و از نزدیک ساحه را مشاهده کند تا جرگه و مردم آگاه شوند که در خط فرضی دیورند، چه جریان دارد.
محمد آجان منگل نماینده مردم پکتیا دراین جرگه نیز گفت که عملاً روند حصارکشی درخط فرضی دیورند، از سوی نظامیان پاکستان جریان دارد؛ اما حکومت افغانستان در مورد خاموش است. شماری از اعضای دیگراین جرگه نیز نظر مشابه داشتند و خواهان توظیف هیأتی به منظور بررسی سرحدات شدند.
فضل هادی مسلمیار رئیس مشرانوجرگه نیز گفت که گزارش ها از ادامه نصب سیم خاردار در خط فرضی دیورند وجود دارد و باید هیأتی از این جرگه، موضوع را از نزدیک بررسی کرده و گزارش آن را با جرگه شریک سازد؛ تا جرگه در مورد تصمیم اتخاذ کند.
سرانجام اعضای جرگه با اکثریت آراء فیصله کردند تا کمیسیون های امور دفاعی و امور سرحدات این جرگه، به گونۀ مشترک، از خط فرضی دیورند دیدن بکنند و در مورد به جرگه گزارش دهند.

## ژونـــد

## پر سفر پیسې لګول لګښت نه دی



مشهور انګلیسي لیکوال ډېوېډ مېچل (David Mitchell) یو وخت ویلي وو: «هغه کس چې له ډېرې شتمنۍ سره مړ شي، ګټونکی دی» خو اصلي خبره دا نه ده، ګټونکی هغه څوک دی چې ډېرې تجربې ولري او په خوښۍ کې یې ژوند کړی وي. په دې لیکنه کې به دا ولولی چې ولې علم اوس هم وایي چې خپله ټوله شتمني په سفر ولګوی. پخوا خلکو داسې فکر کاوه چې ټولې خوښۍ په مادیاتو کې دي، خو اوس علم ثابته کړې ده، هغه څه چې تاسو ته خوښي درکوي، هغه تجربې دي. تجربې لکه سفر، له کوره بیرون کار کول، نوي شیان زده کول، له نندارتونونو لیدنه او داسې نور. ګیلوویچ همدا راز وایي: «د مادیاتو اخیستلو په پرتله د تجربو اخیستل اسانه هم دي او داسې څه دي چې نه له لاسه ورکول کېږي او نه هم زړېږي. په اصل کې دا تجربې دي چې زموږ د وجود یوه برخه جوړوي، له نورو سره مو نږدې کوي او ډېرې لویې خوښۍ راکوي.»

## سوني د پلې استېشن۵ د خرڅلاو نېټه اعلان کړه




که تاسې هم د سوني کمپنۍ د نوي پلې استېشن۵ مینهوال یاست، تاسې ته غوره خبر دا دی چې سوني کمپنۍ د دغه ګېمېنګ کنسول بیه او د خرڅلاو نېټه اعلان کړه. سوني کمپنۍ د تېر کال په اکتوبر کې هم ویلي وو، چې پلې استېشن۵ به د ۲۰۲۰ کال په پای کې خرڅلاو ته وړاندې شي. سوني کمپنۍ وایي چې د پلې استېشن۵ په کنټرولر کې یې ډېر بدلونونه راوستي او دا لومړی ځل دی چې په کې د رمبل ټکنالوژۍ پر ځای نوی هېپټېک فیډ بک ټکنالوژي کارول شوې ده. اوس سوني کمپنۍ اعلان کړی چې پلې استېشن۵ به امریکا، جاپان، کاناډا، مکسیکو، استرالیا، نیوزیلنډ او سویلي کوریا کې د نومبر په ۱۲مه او اروپا او نورو هېوادونو کې به د نومبر په ۱۹مه خرڅلاو ته وړاندې شي. د پلې استېشن۵ ډیجېټل بڼې بیه ۳۹۹ امریکایي ډالره او د پلې استېشن۵ الټرا ایچ ډي بلو رې ډیسک ډرایف بڼې بیه ۴۹۹ امریکایي ډالره ټاکل شوې ده.

د (ATM) یا صرافی خپلکاره ماشینونو کارت لرونکو ته د پیسو اخیستلو اسانتیا
د افغانستان د تادیاتو سیستم (Afghanistan Payment System) د فعالیت له پراختیا سره، د ټولو دولتي او خصوصي بانکونو پیرودونکي چې له دغه سیستم سره تړلی وي، کولی شي په مرکز او ولایتونو کې د عزیزي بانک د ټولو خپلکاره صرافي ماشینونو(ATM) څخه په 24 ساعته توګه پیسې ترلاسه کړي.
همدارنګه د عزیزي بانک محترم پیرودونکي کولی شي د خپلو ATM کارتونو څخه په کتنې له ټولو هغو دولتي او خصوصي بانکونو پیسې ترلاسه کړي چې له دغه سیستم سره نښلول شوي دي.
عزیزي بانک له نوې ټکنالوژۍ سره جوخت خپلو پیرودونکو ته د غوره چوپړتیاوو وړاندې کولو ته ژمن دی.
www.azizibank.af 1515
عزیزي بانک
Azizi Bank

